مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ». "څوک چې دوه مېرمنې ولري او له دوی څخه يوې ته مايل شي، هغه به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې يو مخ به يې لوېدلی (ځوړند) وي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ». "څوک چې دوه مېرمنې ولري او له دوی څخه يوې ته مايل شي، هغه به د قيامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې يو مخ به يې لوېدلی (ځوړند) وي".

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې له يوې څخه زياتې ښځې ولري او له خپلو مېرمنو سره هغه ډول انصاف نه کوي کوم چې ممکن وي لکه: د دوی تر منځ په لګښت، د اوسېدو ځای، لباس او شپې تېرولو کې مساوات، نو د قيامت په ورځ به يې سزا دا وي چې نيم بدن به يې ځوړند وي، او کږېدل يا ځوړندېدل د هغه د ظلم سزا ده لکه څنګه چې دی په خپله تعامل کې يو طرف ته مايل و.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/58125

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee